مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۴/۲۹

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۱)




که وپوښتل شم چې په ټول ژوند کې د چا له مجلسونو ډېر متاثره شوی یې؟ نو زه به ورته پرته له ځنډه د دغو درېیوو هستیو نومونه واخلم :

لومړی- علامه رشاد بابا، چې یو ځل یې په خپل کور کې (کابل – خیرخانه) د لیدلو وياړ را حاصل شوی و. بل ځل جلال اباد کې، چې په افتخار یې غونډه جوړه شوې وه او بل ځل یې د کابل ښار په یوه حکومتي روغتون کې. دا نو داسې وخت و چې د کټ سر ته یې ولاړ وم او د هغه سترګې پټې وې. په هغه سهار رڼا ورځ داسې تیاره ښکارېده لکه بشپړ کسوف چې واقع شوی وي. په هغه ورځ د علم، پوهې او انسانیت دا ځلیدونکی ستوری تت شوی و او د ژوند له اسمانه را پریوتی و .

دویم -خدای بخښلی استاد محمد صدیق پسرلی و چې بار بار یې لیدلو ته تللی وم او د هغه له هر مجلسه مې خواږه راټول کړي ول .

درېیم- پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل و. دا کمساری پوهاند مو په پوهنتون کې استاد و او د شاوخوا درېیوو کلونو د شاګردۍ وياړ یې لرم .

مرحوم کاکاخېل د مینې، اخلاص، عاجزۍ او خوش مزاجۍ یو خوندور امتزاج و. په هر ځل لیدلو یې یو نوی کیفیت حاصلیده .

استاد یو وخت خیرالبیان را تدریساوه. دا د پیر روښان مشهور اثر دی چې تر ډېره وخته نادرکه و. دا نایابه اثر د پېښور د پښتو اکاډمۍ مشر مرحوم مولنا عبدالقادر په کال ۱۹۵۹ کې د جرمني په یوه کتابتون کې موندلی و چې بیا په کال ۱۹۶۷ کې د همدې واحدې نسخې له مخې په لومړي ځل د خیرالبیان متن د اروابناد حافظ عبدالقدوس له سریزې سره د پېښور پښتو اکاډمۍ لخوا چاپ شو .

د روښانیانو د نهضت مشر او د خیرالبیان لیکوال، په دې کتاب کې د خپلو خبرو د تقویې لپاره د احادیثو په نوم ګڼ عبارتونه هم ځای په ځای کړي دي. تقویم الحق کاکاخېل صیب به د تدریس په مهال کله کله ځینو عبارتونو ته موسک شو او بیا به یې ویل: دا حدیث نه دی؛ دا د پیر روښان خپل ایجا دی.

کاکاخېل صیب، راته د تصوف مضمون هم تدریساوه، دومره په خوند چې په درسي ساعت کې به یې موږ ته ځانونه صوفیان او صاحب کرامات ښکاریدل .

د تصوف د ازموینې ورځ وه. استاد کاکاخېل راننوت او یو نری ځوان هم ورسره جوخت راغی، چې په لاس کې یې چپړونه ول. کاکاخېل صیب پر څوکۍ کیناست او ځوان د دروازې خواته ولاړ پاتې شو. د ازموینې پرچې وویشل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

شوې؛ خو یوه پوښتنه هم د چپټر له منځه نه وه. ټولې د تصوف مربوط وې؛ خو بیرونۍ وې. موږ چې پوښتنې وکتلې؛ نو شور مو جوړ کړ. استاد، زموږ اعتراضیه شور ته وخندل او بیا یې ویل: له ماسره ټول فیل (ناکام) شوئ. او بیا یې د دروازې خواته ولاړ ځوان ته وکتل: که دا پوښتنې مې د سالک صنف ته ورکړې وای؛ نو ټولې به یې حل کړې وې. دې خبرې ته Mustafa Salekصیب، د تایید سر وخوځاوه او دې حرکت یې موږ ته سخت زور راکړ .
استاد مجبور شو، بلې خونې ته لاړ او د چپټر له متنه یې، نوې پوښتنې جوړې کړې .
کاکاخېل صیب وفرمایل: پوهنتون تاسو ته لاره پرانیزي، نور به خپله مطالعه کوئ. که یوازې لکچرونو او چپټرونو ته کینئ نو ګومان مې نشي که څه زده کړئ .
موږ رښتیا هم یوازې د پوهنتون درسي موادو ته اړم وو. هماغه مو ټکي په ټکي حفظول؛ ځکه خو مو سمه زدکړه ونشوه کړای؛ خو د ښاغلي مصطفی سالک اتاق ته چې به لاړې؛ نو د چپرکټ سر ته به یې د پېښوریو په خبره (بلا شی) پښتو، فارسي، اردو کتابونه او رسالې ایښې وې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ